# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |


# ډیر ترویج
# او
# ډیر تبلیغ


اي. میشتر

ژباړه: ولي

ډیر ترویج او ډیر تبلیغ
اي. میشتر
ژباړه : ولي
خپرندویه: سیند خپرندویه

# ډیر ترویج او ډیر تبلیغ

## ای. میشتر

## د کمینترن له اسنادو څخه

## ژباړه: ولي

پانګوالي یوازې د خپلو بانکونو او تراستونو، د خپلو محکمو، قوانینو او پوځي قطعاتو او د مالي ځواک او حکومتي دستګاه له لارې  خپله واکمنتیا نه ساتي. پانګوالي همدا ډول د دې واقعیت پر اساس حکومت کوي چې د تبلیغ او ترویج لپاره تقریباً نا محدوده وسایل او امکانات لري. ښوونه او تعلیم او روزنه، علم او هنر، کتابونه او ورځپاڼې، رادیو، سینما او تیاتر، دا ټول هره ورځ د واکمني طبقي عقاید د ولسي پرګنو په ذهنونو کې تزریقوي. دا ټول کوښښ کوي چې د ستم ځپلو زیارکښو زړونه او ذهنونه خپل لورې ته راوکاږي، منحرف یې کړي، تر برید لاندې یې ونیسي او تر خپلې ولکې لاندې یې راولي. فاشیستي دیکتاتورۍ دا تبلیغ تر نهایي درجې پورې تیز کړی دی. د دې دیکتاتورۍ ټول سازونه په همغږي توګه یو آواز غږوي او فاشیستي تبلیغي وزارتونه هم خپله بد آوازه موسیقي په اوچت غږ وهي.

زموږ ډیری ملګري په خطرناک ډول لیوالتیا لري چې د خپلو دښمنانو تبلیغ او ترویج ته کم ارزښت ورکړي. هغوې د تبلیغ او ترویج چارې ثانوي ګڼي او د دې موضوع د پوهیدو توان نلري چې په اوسني شرایطو کې دقیقاً دا موضوع ډیره شدیده او متمرکزه پاملرنه غواړي. دا د کمونیستي ګوندونو یوه ټاکونکې دنده ده چې په ورځني توګه د خپلو عقایدو په تبلیغ سره په نوي ډول د فاشیزم په وړاندې مقابلې ته ودریږي، هغه فاشیزم چې د هر ډول ښکاره او پټې وسیلې په کارولو سره کوښښ کوي د ولسونو د ذهنونو مالک شي. تبلیغ او بیا هم تبلیغ، د ولسونو تر منځ زموږ د عقایدو د رسولو لپاره د هرې شونتیا کارونه او د دې لپاره چې په فاشیزم کرکه شوې فضا کې زموږ د نظراتو وړمه ولګیږي، د فاشیستانو او رفرمیستانو د استدلالونو سره زموږ مقابله د هر وخت په پرتله د کمونیستي ګوندونو مهمه دنده جوړوي. د ځپونکو فاشیستو او جګړه مارو په وړاندې د یوې بریالي مبارزې او د رفرمیستانو د ویجاړونکو توهماتو په وړاندې د یوه بریالي برید لپاره، یوه ډیره مهمه مخکښي اړتیا زموږ دتبلیغاتو کمي او کیفي

رغاونه ده چې باید د زیاتو کتابونو، زیاتو جزوو، زیاتو ورځپاڼو، ښه کتابونو، ښه جزوو او د ښو ورځپاڼو د خپرولو له لارې تر سره شي.

**د ترویج او تبلیغ منځپانګه باید څه وي؟**

شونې ده چې د دې پوښتنې بیا راپورته کول، هغه پوښتنه چې په کراتو ځواب شوې، بې ګټې ښکاره شي. خو له هغه ځایه چې په عمل کې زموږ ځینې ملګري تبلیغ او ترویج سره غلطوي او ځینې فکر کوي چې تبلیغ دا مهال باید څنډې ته کیږدو څو ترویج ته لاره خلاصه شي، نو دې پوښتنې ته د لنین ځواب یو ځل بیا رایادوو. لنین چې د پلخانف لخوا د وړاندې شوې تعریف په اړه خبرې کړې، داسې لیکي:

«مونږ (د پلخانف او د کارګرانو د نړیوال غورځنګ د ټولو رهبرانو سره) تر اوسه فکر کاوه، چې یو مروج چې مثلاً د وزګارتیا پر موضوع باندې خبرې کوي باید د کړکیچ پانګوالیزه منځپانګه توضیح کړي، په ننني ټولنه کې د کړکیچ حتمي رامنځته کیدنه وسپیړي او دا تشریح کړي چې ننۍ ټولنه باید څنګه په حتمي ډول په یوې سوسیالیستي ټولنې بدله شي او.... لنډه دا چې هغه باید «ډیرې آیده ګانې» عرضه کړي؛ هومره ډیرې چې یوازې به نسبتاً لږ شمیر کسان ورباندې پوه شي. خو یو مبلغ چې د همغې موضوع په اړه خبرې کوي د توضیح لپاره داسې یو واقعیت انتخابوي چې د هغه مخاطبان په پراخه ډول هغه وپیژني او ورته متمایز وي. د ساري په توګه د ولږې له امله د یو وزګار کارګر د کورنۍ مرګ، زیاتیدونکی فقر او ... او د دې واقعیت په کارولو سره «پرګنو» ته یوازې د یوې ایدې د وړاندې کولو لپاره خپل ټول کوښښ کاروي، یعنې د ثروت د زیاتیدنې او د فقر د زیاتیدنې تر منځ د احمقانه تضاد ایده. مبلغ به کوښښ وکړي د ولسونو تر منځ د دې ښکاره بې عدالتۍ په وړاندې د خلکو قهر او نارضایتي راوپاروي او د دې تضاد بشپړه توضیح به مروج ته پریږدي.

ترویج او تبلیغ باید د یو بل بشپړونکي وي. هیڅ یو نه باید د بل په بیه سپک وګڼل شي او نباید یو د بل پر ځای وکارو. که ځینې ملګري انګیرې کله چې مونږ د خلکو دموکراتیکو آزادیو لپاره نیغ په نیغه تبلیغ کوو نو ضروري ده چې دا ترویج او تبلیغ د پرولتاریا د دیکتاتورۍ لپاره محدود کړو، دا ملګري په اشتباه کې دي (همدا ډول هغه کسان هم تیروتنه کوي چې فکر کوي بې له دې شعار څخه چې «ژوندی دی وی د پرولتاریا دیکتاتوري!» نشو کولای د مهمو غوښتنو لپاره تبلیغ وکړو). آیا د دې اړتیا لیدل کیږي چې د متحدې جبهې د جوړولو او د ولسونو د جبهې د سازماندهۍ او د ولسونو تر منځ د لارې پیدا کولو په موخه په خپلو تبلیغاتو کې له کمونیزم څخه یو څه کم وغږیږو؟ بر عکس، باید د کمونیزم په اړه ، د شوراګانو د قدرت په اړه او د خپلو اصولو په اړه لا زیاتې خبرې وکړو. خو یوازې په مناسبو شرایطو کې باید د ولسونو بلاواسطه تجربې، اړتیاوې او غوښتنې د خپل تبلیغ د پیل ټکی وګرځو او باید پوښتنو ته په رنتوب او ژوندي توګه بې له دې چې دا پوښتنې په اوږدو کړو وړو توضیحاتو او د تیوریکو پیچیلو موضوعګانو په راپورته کولو سره لا پیچیلې کړو، ځواب ووایو. خو په ورته وخت کې باید خپل سیاست توضیح کړو او د هغه دلایل روښانه کړو. د هغه راتلونکی باید انځور کړو او ښکاره کړو چې څرنګه دا سیاست د پرولتاریا د دیکتاتورۍ لپاره زموږ له مبارزې سره تړاو لري. په تبلیغي کار کې د پرګنو د ملموسو مسایلو، له هغه مسایلو څخه چې د چاودیدونکو توکو حکم لري او د ولسونو لخوا نیغ په نیغه د پوهیدنې وړ دي، کار اخلو؛ لکه د ولږې له امله د یو وزګار کارګر مړینه، د طبقاتي محکمې د مرګوني حکم په څیر مسایل او.... مونږ پر دې مسایلو ټینګار کوو، په داسې حال کې چې عمداً له ډیرو نورو مسایلو څخه چې رسوایي یې کمه ده، په سادګۍ تیریږو، خو په ورته وخت کې په خپل ترویج کې ښکاره کوو چې د ولږې له امله د یو وزګار کارګر مړینه او ورته

پیښي په هیڅ ډول تصادفي نه دي، بلکي د پانګوالی یوه عارضه ده او د داسي پیښنو د بی پایه تکرار مخه یوازې هغه وخت نیولی شو چي پانګوالي نابوده او سوسیالیزم آباد کړو.

مونږ باید له دې بد او بی معنی عادت څخه چي ټول شیان په یوه تبلیغي ویناپانه او مقالي کي ځای په ځای کړو او خپل ټول استدلالونه او غوښتني په هغه کي کتار کړو، ډډه وکړو. مونږ د داسي ویناپانو او مقالو سره آشنایي لرو چي له پیله تر پایه له استدلالونو او غوښتونو ډکي دي خو د ولسونو د ویښولو او هڅوني په ځای په ډېر احتمال هغوی بیده کوي. په تبلیغي ویناپانو او مقالو کي مونږ ټول شیان پر یوه واحد اند متمرکزوو څو په تبلیغي کار کي خپل تز له هر اړخه وپالو. البته کیداې شي ولسونو ته ډېر مطالب ووایو، خو د یو مبلغ هنر دا دی چي وکړای شي په هره شیبه کي هغه څه ووایي چي له ټولو زیات اغیزناکه وي، یوازې هغه مطالب ووایي چي په هماغه شیبه کي وکړای شي بی له تفصیلي استدلال څخه ولسونه ولمسوي او راپایڅوي. زموږ د فرانسوي ملګرو دا شعار چي «ښتمن اړ کړئ چي بیرته یې درکړي» په تبلیغ کي د مهارت ځلاندتیا ښکاره کوي. دا شعار د ورځي په شان ولسونو ته روښانه دی. هغه شعار چي تفصیلي او اوږدو توضیحاتو ته اړتیا ونلري د ولسونو په ذهن کي نفوذ کوي، د بشپړو استدلالونو پرته هغوی متقاعدوي، او دننه انګار یي په لمبو بدلوي.

خو مونږ تل په توضیحي کار کي اعلاموو چي اړتیا ده لا مخي ته لاړ شو او ووایو چي یوازې د پرولتاریا دیکتاتوري، یوازې شورایي ځواک کولای شوي د زیارکښانو اړتیاوې د تل لپاره پوره کړي او نیمګړتیاوو ته پای ورکړي. دا وخت پراخه ولسي پرګني د دې ایدې په وړاندې شکمن یا ان منفي فکر لري او زموږ ترویج او تبلیغ به ورته د دې ایدې منل آسانه کړي. نو مونږ باید تل ترویج او تبلیغ د یو بل بشپړونکی کړو، د هغوې تر منځ په سمه اړیکه ټینګه کړو، دواړو ته تکامل ورکړو او بدایه یي کړو.

**له چا سره خبرې او د چا لپاره لیکل کوو؟**

لومړنی پوښتنه چي باید له ځان څخه وکړو دا ده چي: له چا سره خبرې او د چا لپاره لیکل کوو؟ آیا مخاطبین مو ګوندي ملګري دي، که غیرګوندي کارګران دي او یا د نورو ګوندونو غړي دي؟ آیا له هغو کارګرانو سره خبرې کوو چي مونږ پیژني او پر مونږ باور لري، یا مخاطبین مو هغه زیارکښان، هغه دهقانان، کسبګر او خپلواکه روڼ اندي دي چي لا پر مونږ بی اعتماده دي؟ آیا ټولو زیارکښو ولسونو ته، که یوې ځانګړې طبقي او ځانګړو ډلو او ټپلو ته یوه ځانګړی وینا لیکو؟ آیا ځوانانو ته، که په یوې لوې صنعتي سیمي کي کارګرانو او که د هقانانو ته یوه ځانګړی مقاله لیکو؟ مخاطبین مو څوک دي، څوک باید زموږ له کلیمو څخه اغیزمن شي او کومه خاصه پایله باید ترې تر لاسه شي؟ دا لومړنی پوښتنه ده، هغه پوښتنه چي اکثراً تپوس یي نه کیږي او ځواب یي هم نه ورکول کیږي. شته ځیني کسان چي په ولسي میټنګونو کي هماغه ویناوې کوي چي په ګوندي سیمه ایزه کنفرانسونو کي؛ د ځوانانو په میټنګونو کي کټ مټ هغسي خبرې کوي چي له زړو کارکونکو سره یي کوي او....

په ګُلی توګه هغوې له خلکو سره ژوندی خبرې نکوي، بلکي له هغه مجرد مخاطب سره غږیږي چي د دې په ځای چي ویناوال ځان ته زحمت ورکړي او خپل عقاید د اوریدونکو په ذهنونو کي ځای په ځای کړي، هغه باید د ویناوالو په اندونو کي د نفوذ کولو زحمت په خپله وګالي. دا هغه ویناوې او مقالي دي چي احتمالاً د نړی د تاریخ آرشیفونو، یا هم د نیوکګرو عالم وزمو او یا هم د دانشمندانو لپاره لیکل کیږي، نه د هغو ولسونو لپاره چي باید د دې مقالو او ویناوو مخاطب وي.

له تیوریک پلوه نشو کولای دا شان زیاتو ویناوو او مقالو ته ګوته ونیسو، هغوې یوازې یوه کوچنی نیمګړتیا لري، د لوستلو وروسته یي لوستونکی بی تفاوته پاتی کیږي، هیڅ ډول غبرګون په هغوې کي نه راپاروي. دا یوازې کافی نه

ده چي زموږ په وینا یا مقاله کي دې تیروتنه نه وي، بلکي باید په داسي ډول یې ووایو او وې لیکو چي په ځانګړیو شرایطو کي پر خاصو ډلو ټپلو او ولسي پرګنو باندې اغیزه وکړي.
په دې اړه چي څه وواياست ډیر فکر مه کوئ، زیات په دې فکر وکړئ چي څرنګه یې ووایئ، زموږ مروجین او مبلغین باید دا خبرداری په یاد ولري. د دې لپاره چي په بشپړ ډول دې خبرداري ته پاملرنه ولرو باید پوه شوو چي له چا سره خبرې کوو، د چا لپاره لیکل کوو؛ باید پوه شوو چي کوم شیان لوستونکی او اوریدونکی پاروي او له ټولو مهمه په اوسني شرایطو کي د کومو پوښتنو ځواب غواړي، د هغوې په ذهن کي یې کوم ناسمه استدلالونه ځای په ځای کړي دي او کوم ټولنیز او سیاسی چاپیریال پر هغه اغیزه کوي. ښایي مونږ د دې خلکو هیلي او اړتیاوې، امیدونه او بیریدني د خپلو تبلیغاتو د پیل ټکی وګڼو او د هغه تزونو او پریکړو د پلي کولو لپاره یې راجلب کړو چي باید د سموالي په اړه یې دا خلک باورمن کړو. ملګري دیمتریوف د کمونیستي انترناسیونال په اومه کنګره کي په خپلي پاییزې وینا کي، هغه کمونیستان چي نشي کولای ساده او مشخصي خبرې وکړي او داسي انځورونه وکاروي چي د ولسونو لپاره ملموس او د پوهیدني وړ وي، هغه کمونیستان چي لا نشي کولای هغه انتزاعي فرمولونه چي یې حفظ کړي، څنډې ته کیږدي، په بیرحمې سره یې تر نیوکي لاندې نیسي او وایي:
«زموږ څخه اکثره داسي انګیري، که چیرې ولسونو ته غټي غټي خبرې او د پوهیدني نه وړ فرمولونه او تزونو وکاروي، د هغوې تهییج او تبلیغ به ښه وي. خو هیروي چي زموږ په عصر کي د کارګرې طبقي سترو رهبرانو او تئوریسنانو یعنی لنین او ستالین به ټل په مکمله توګه په ولسي ژبه خبرې او لیکل کول، هغه ژبه چي پراخو ولسي پرګنو ته د پوهیدني وړ وه؛ مونږ هر یو باید دا یو قانون، یو بلشویکي قانون، یو لومړنی قانون وګڼو چي:
د لیکلو یا د خبرو پر مهال تل عادي کارګران په پام کي ولره، چي نه باید له هغه څه چي وایی او لیکی وتښتي. باید ستا په خطاب باور ولري او له تا څخه د پیروی لپاره چمتو وي! باید هغه کسان، چي لیکل او خبرې ورته کوی، په پام کي ونیسئ.»
دا چي د ټولو ټاکونکو چارو په اړه حقیقت له مونږ سره دی، یو تاریخي واقعیت دی، خو باید ولسونه په دې چارې متقاعد کړو او یوازې هغه مهال حقمن پاتی کیږو چي نه د اصولي او وچو کسانو په شان، بلکي د واقعي مروجینو او مبلغینو په توګه هغوې ته نژدې شوو، د دې په ځای چي وغواړو چي همدا نن ولسونه زموږ ژبه زده کړي، باید په دې پوه شوو چي دا زموږ دنده ده چي د هغوې ژبه زده کړو.

**نوې ژبه**

«باید په نوې ژبه خبرې وکړو!» په زیاتو مصوبوکي دا موضوع څرګنده شوی ده، خو پلی کیدل یې ډیر پڅ دي. دا د نوې ژبې مسئله، هغه ژبه چي میلیونونه انسانان مبارزې ته هڅوي، یوازې د سبک (ډول) مسئله نه ده، بلکي د لورلید یو ډول دی. د کمونیستي انترناسیونال یو ګوند په دې اړه یوه بیلګه رامنځته کړی ده. د فرانسي کمونیست ګوند هغه ګوند دی چي په یوې بشپړه نوې، ځواکمني او شتمني ژبې باندې خبرې کوي.
دا کومه ژبه ده؟ زموږ فرانسوي ملګري په ربښتیا د خپلو خلکو په ژبه، د فرانسي د خلکو په ژبه، په خپلي پخوانی بډایه ژبه، د ولټر یا د دیده رو او د انقلاب په ژبه، د واقعیت په ژبه او په اوسمهاله ژبه خبرې کوي. مونږ څنګه کولای شوو دا د ولسونو ژبه، دا د خلکو ژبه زده کړوو؟ د ترلو ورونو او کړکیو تر شا یې نشو زده کولای. یوازې د ورونو او کړکیو په پرانیستلو او د هغه تازه هوا وړمو ته د اجازه ورکولو سره یې زده کولای شوو چي ولسي پرګني یې تنفس کوي. دا ژبه هغه وخت زده کولی شوو چي د خپل هیواد او ولس د برخلیک او راتلونکي په اړه خپل مسوولیت احساس کړو. دمګړی، د ۲۰۰ کورنیو په وړاندې د ولسونو د پیوستون لپاره زموږ د فرانسوي

ملګرو تبلیغ، د یوه ځلانده سبک لرونکي هجا څخه پورته یو حرکت دی. دا تبلیغ چې «مونږ فرانسه یوو، د فرانسي هیواد او ولس، مونږ کمونیستان د ولس، د هیواد د ژوندانه، د هغه د کلتور او د نه پای ته رسیدونکي شتمنتیا قاطع او جدي مدافعین یوو، چې د څوه سوه کورنیو په لاسونو چې د پانګوالی د زبیناک ښکارندوی دي، لوټل کیږي»، د یوه ستر او اصیل احساس ځلا ده. نوی ژبه د یوه نوي تاکتیکي چال او چلند څخه سرچینه اخلي. مونږ ګوښي ته شړل شوي ډله نه یوو او د ترلو کړکیو تر شا د بحث لپاره ناست نه یوو، مونږ د ولسونو زړه او ماغزه یوو، هغه ګوند چې یوه ورځ به فرانسه وي.

مونږ ټول ډیر داسي شیان دي چې له فرانسوي ملګرو یې زده کوو، د فرانسي د ولسونو تراني او د فرانسي د ادبیاتو استادانه پنځوني، د هغوې د هیواد ځلانده لمر او د هغوې د انقلابي تاریخ ځلانده رڼا د هغوې په ژبه کې لاره مومي. او کله چې تورز په کنګره کې خپله وینا د وچو تحلیلونو په ځای د فرانسوي ژبی د حیرانونکي ښایست او بداینې په ستاینې پیلوي، د فرانسي د کمونیست ګوند ژبه او دریځ څرګندوي.

په نورو کمونیستي ګوندونو کې زمونږ ملګرو کوښښ کړی په اصطلاح نوی ژبه په تصنعي ډول وزیږوي، کوښښ یې کړی خپلې ویناوې او مقالې په هغو کلیمو او عبارتونو سینګار کړي چې فاشیستان یې کاروي، هغه څه ته چې اړتیا لري د دې په ځای چې د خلکو د شتمنې ژبې له چینې څخه یې واخلي، کوښښ یې کړی ځان د دښمن له ژبې سره منطبق کړي. دا غلطه او خطرناکه پوهیدنه ده. په آلمان کې، له دې هیڅ څه غلط نشته چې د موهن هیتلر او ګوبلز د ژبې د عبارتونو له ځینو برخو څخه کار واخیستل شي، بلکې د دې عکس، مونږ باید د دهقاني جګړو ژبه او ولسي تراني زده کړو، د شلسینګ او ګوته، هومر او داریته ژبه، د آلمان د ولسونو شتمنه او آزاده ژبه زده کړو. له دې کار څخه ښایي کومه ویره ونلرو، ځکه بی له تیروتنې به یې زده نکړو. شاید کله نا کله ناسم لحن غوره کړو، خو که د پریکړه لیکونو په وچې او ستومانه کونکی ژبه خبرې ونکړو، بلکې د ولسونو په ښکلې او ژوندی ژبه وغږیږو، نو خلک به مونږ درک کړي.

**د هرڅه په اړه غبرګون ښکاره کړئ او په چټکی غبرګون ښکاره کړئ**

مونږ باید هر هغه څه ته چې د ولسونو تر منځ احساس راپاروي او ولسونه ورسره لیوالتیا لري، غبرګون وښیو او هغه هم چټک غبرګون. په دې اړه کولای شوو له فرانسوي ملګرو، د هغوې د کنګرې له بیلګې، د هغوې له ویناوو او د هغوې له مرکزي ارګان «اومانیته» څخه زده کړوو؛ په ټولنیز ژوند کې داسې یوه مسئله نشته چې هغوې په اړه غلي پاتې شي. له دې څخه به هیڅ څه ناسمه نه وي چې یو کمونیست ووایي «دا کار ما پورې ارتباط نلري» نه، ټول شیان مونږ پورې ارتباط لري؛ که دا یوه اقتصادي مسئله وي، که ښوونځي پورې ارتباط ولري او که بهرنې سیاست پورې، که کورنۍ مسئله وی او که د بهرنیو تادیاتو د بیلانس او یا د کلتوري زوال مسئله وي.

زمونږ ترویج او تبلیغ باید بیلابیل ډولونه پیدا کړي، هر اړخیزه شي او نه یوازې د خلکو اقتصادي غوښتنې، بلکې باید پراخه برخه راونغاړي، د هغوې نورې اړتیاوې هم باید په پام کې ونیسي. مونږ کمونیستان په پام کې لرو چې نړۍ له سره جوړه کړو. مونږ د هر هغه څه په اړه چې په پانګوالی نړۍ کې واقع کیږي، خپل نظر او عقیده لرو. داسي شیبې هم شته چې ځینې مسئلې په ظاهره فرعي ښکاري. د نویو مالیاتو د وضع کولو په پرتله یوه بشپړه رسوا محاکمه، د بیرغ مسئله، د یو فلم ننداره، شوني ده چې د ولسونو تر منځ د مستقیمې او زیاتې پارونې لامل شي، هغه پیښې چې په مستقیم ډول پر ولسونو اغیزه کوي، باید د تبلیغ لپاره وکارول شي. زمونږ تبلیغ باید د کُلي اصولو پر ځای د ژوندانه له شته واقعیتونو سر راپورته کړي.

دا ډول تبلیغ په ځانګړي توګه زموږ د سیمه ایزه تبلیغ په اړه صحیح ښکاري. په داسي یوه هیواد کي چې زموږ د ګوند فعالیت په کي قانوني بڼه نلري، په یوې ولسوالی کي دوه ماشومان له ولږی مړه شول خو زموږ د ګوند سیمه ایزې ورځپاڼې د دې پر ځای د جاپان په اړه یوه سرمقاله خپره کړه. یوه بله بیلګه له یو فاشیستي هیواد څخه راوړو: په یوې ستري کارخانې کي کارګرانو په یو اعتراضي اعتصاب لاس پورې کړ، خو سیمه ایزې کمیټې د دې چارې راپور په آخري پاڼې کي چاپ کړ او نورې ټولې پاڼې یې ګُلي سیاسي چارو ته بیلې کړی. دا د تبلیغ بد ډولونه دي. مونږ باید بی له ځنډه د هغو مسئلو په اړه چي پارونکي دي، هغه مسئلي چي په ځانګړو شیبو کي د ولسونو لپاره د اندیښني او ناراحتی وړ دي، خبرې وکړو او ان دا خطر ومنو چي شونی ده زموږ دریځ سل په سلو کي سم نه وي. په داسي حال کي چي په چټکی ټولو ورځنی مسئلو ته غبرګون ښکاره کوو، باید مکتوبي کلام ته زیات ارزښت ورکړو او شفاهي تبلیغ ته هم لږ ارزښت ورنکړو. زموږ ځیني ملګري انګیري چي د یوې اعلامیې چټک چمتو کول د تبلیغ پرتمینه لوړه څوکه ده یا فکر کوي که تور قلم د سپین کاغذ پر مخ وخوځید،ګوند خپله دنده تر سره کړی ده. دا د مستقیم او خولې په خولې، له یو کس څخه بل کس ته، یعنی د ژوندي تبلیغ دکم ارزښته ګڼلو معنی لري. که چیرې کولای شوو په بل ډول خلکو ته نژدی شوو، نو اعلامیه یو ضروري کار دی او که لازم وي چي پراخه ولسي پرګني په چټکی له یوې چارې مطلع شي او په هغه اړه د ګوند په دریځ پوه شي، اعلامیه کاملاً ضروري ده، خو اعلامیه نشي کولای د شفاهي تبلیغ یا د ورځپاڼي یا جزوه ی ځای ونیسي.

باید په ځانګړي ځیرتیا سره خپل شعارونه غوره کړو. لومړنی اصل دا دی چي ډیر شعارونه پورته نکړو. باید ولسونه د شعارونو له اوږده لست سره مخامخ نه کړو، دا کار یوازې ذهنونه مغشوشوی او د هر بیلابیل شعار ضربتي ځواکمنتیا کموي. زموږ تبلیغ یوډوله او ستومانه کونکی لحن باید ونلري. باید د زیارکښانو ټولنیز ژوند، بیلابیلي ګټي او اړتیاوې په پام کي ونیسي او په پریکنده ډول، په نه ستومانه کیدونکي ډول ګویا د څټک سره باید د ولسونو د پوهیایي منځ ته ولیږدول شي، په داسي ډول چي هیڅوک ونشي کړای د هغې له اغیزې خوندي پاتي شي. د دې توانایي د لاسته راوړلو لپاره زموږ شعارونه باید مستقیماً د ولسونو لپاره د پوهیدني وړ وي، باید د هغوی له ژورو هیلو سره تړاو ولري، پیچیلي او دوه اړخیزه شعارونه باید ورنکړای شي. باید د خپلو دښمنانو له تریخي تجربې څخه زده کړو. خو تر هیڅ شرایط لاندې نباید له هغه ابهامي عنصر څخه استفاده وشي چي غالباً د فاشیزم لخوا کارول کیږي. په روسیه کي د فبروري انقلاب وروسته د بلشویکانو د ډوډی، سوله او آزادي شعار د کمینترن ځینو برخو ته بیلګه ده او همدا ډول زموږ د فرانسوي ملګرو شعار چي «شتمن اړ کړی چي بیرته یې درکړي»، همدا ځانګړنه لري. زموږ شعارونه نه یوازې باید روښانه او ساده او د هر چا لپاره د پوهیدني وړ وي، آن که له سیاسی پلوه مجرب هم نه وي، بلکي باید واقعاً د پلي کیدو وړ وي او ولسونو ته عملي ښکاره شي. په هغه راتلونکي کي د پلي کیدو وړ وي چي څرک یې کاملاً ډیر لیرې نه وي. هر هغه شعار چي هرڅومره زمونږ له کړنلارې سره قاطع تړاو ولري، که مخاطبو ولسونو ته د پوهیدني وړ او یا عملي نه وي، بد شعار ګڼل کیږي. که داسي شعارونه ورکړو او ځان په دې فکر تسکین کړو که ولسونه زموږ په شعارونو نه پوهیږي، دا د هغوی نیمګړتیا ده او تاریخي حقانیت له مونږ سره دی، نه د هغو سره چي مونږ ته غوږ نه ږدي، دا به یوازې ډله پالنه وي.

څکه زموږ د ترویج او تبلیغ موخه د ولسونو متقاعد کول دي، البته دا به عالي وی که ولسونه همدا اوس چمتو وی چي د پرولتاریا د دیکتاتوری لپاره په مستقیم ډول اقدام وکړي، خو له هغه ځایه چي دې عمل ته چمتوالی نلري، مونږ باید په لومړی کي داسي شعارونه ورکړو چي ولسونو ته د مبارزې لارښوونه وکړي. که داسي شعارونو ورکړو چي په مضمون کي سم وي خو تجریدي وي او لیرې راتلونکي سره تړاو ولري او د ولسونو د اړتیاوو سره

مستقیمه اړیکه ونلري، دا به بد تبلیغ وي. ښه تبلیغ هغه دی چي وکړای شوو د ولسونو هیلي او د ګوند اراده په څو لنډو، ساده او معنی لرونکو الفاظو کي ووایو.

**د دښمن د استدلالونو ناسموالی ثابت کړئ!**

زموږ تبلیغ له هغو مشکلاتو او امکاناتو څخه ډیر وروسته پاتی دی چي زموږ ګوند ورسره مخامخ دی. پراخه ولسي پرګني په حرکت راغلي دي، هغوی په دې پوه شوي چي زړه پانګوالیزه نړۍ نور د اعتماد وړ نه ده او په سخته توګه ناپایینته ده. هغوی د کړکیچ او جګړي له خطر څخه د ژغورني د لارې په لټه کي دي، له هر وخت نه ډیر د نوي وضعي لپاره تږي دي، هغوی د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد او کمونیزم ته له هر وخت څخه ډیر لیوال دي، هغوی سلګونه سوالونه لري او غواړي چي مونږ یي سلګونو سوالونو ته ځواب ووایو. خو هغوی یوازې مونږ ته غوږ نه نیسي، هغوی همدا ډول «د فاشیستو غلو روح» ته هم غوږ ږدي. ولسونه نوې شئی غواړي، داسي ځواکمن شئی چي د هغوی پر راتلونکي باندې د اغیزه کولو توان ولري. په داسي شرایطوکي له هر وخت ډیر اهمیت لري چي د ځواکمنو تبلیغاتو سره ټولو ټپوسونو ته ځواب ووایو او د دښمن د استدلالونو ناسموالی ثابت کړو. د هغوی لپاره چي د مرستي تږي دی باید پراخي دریځي خلاصي کړو. کله له دې احساس څخه خلاصیدل چي مونږ نشو کولای په ټاکلي تاریخي شیبه کي په سمه توګه خپل رول او د خپلو ستونزو ستروالی درک کړو، ناشونی دی. په میلیونونو خلکو مونږ ته غوږ اینودی، خو مونږ هغوی ته ډیر کم شیان وایو. مونږ باید د ټولو هغو کسانو مشارکت چي له مونږ سره هم عقیده دی او یا زمونږ د عقیدې پلویان دی، تامین کړو؛ د ټولو هغو کسانو مشارکت چي د لیکني توان لري او په ورته وخت کي دا وس لري چي هغه شیان چي مونږ یي په لاره کي جنګیږو، په پنځونکي توګه بیان کړي، تامین کړو. مونږ باید په دې توګه د کتابونو، رسالو او ورځپانو یو بشپړ پوځ جوړ او د هغوی په کمک د دښمن له ډارونکي تبلیغاتو سره مقابله وکړو. باید د شوروي د جمهوریتونو د اتحاد لپاره تبلیغ وکړو، خو نوی او ژوندی تبلیغ. نړیوالو ته ووایاست چي څنګه د سوسیالیستي شوروي د جمهوریتونو اتحاد ملتونه راژوندي او راویښیږي او ځوانان هلته څنګه ژوند کوي او پرولتري دموکراسي څنګه پراختیا مومي. نوی انسان څنګه زیږیږي، څنګه له کوچني توب څخه بلوغ ته رسیږي او دا ټول نه باید د پریکړه لیکونو او رسمي ګزارشونو په ستومانه کونکي ژبې، بلکي د ژوندي تجربیاتو په ژبه، هغه ژبه چي شتمنه او بډایه ده، ووایئ. باید د جګړې ضد کتابونه ولیکو، د ولسي جبهې په اړه، د دموکراسۍ په اړه، د کمونیستي انترناسیونال د مرام په اړه او له ټولو زیات د خپلو اصولو په اړه، د شوراګانو د ځواک په اړه، د کمونیستي نړۍ لید په اړه باید کتابونه ولیکو. د تاریخ ژورتیا ته باید پام وکړو او د زیړ قلم او ځلانده رنګونو سره د کمونیزم په لور د بشر لاره، د ښادۍ او آزادۍ د قلمرو او د پنځونکي کار او ورورګلوي لپاره د بشر مبارزه انځور کړو. په داسي حال کي چي د نوې نړۍ په درشل کي ودریدلي یوو، په میراني باید د دې نوی نړۍ له پرتم او شتمنتیا څخه خبرې وکړو. باید تر ټولو لومړی او له ټولو زیات هغه ځوانان راجلب کړو چي فاشیزم کوښښ کوي د خپلي ایدئولوژي خوا ته یي راوکاږي. د فاشیزم ایدئولوژي د زوال او نابودۍ تر سیورې لاندی پټه ده او د فساد نښي نښاني په کي جوته دي. ځوانان یي تر یوې کچي پورې ځان ته راکاږلي او ښایي د هغه په ضد بیرحمانه او جدی مبارزې ته دوام ورکړو.

**د ذهن او حواسو کارونه**

دا تبليغات نبايد په عامي ګري بدل کړو. په تبليغي کار، په ولسي ميټينګونو کي کولای شوو په يو مسخره داستان مخالف وځپو. خو په تبليغ کي بايد ټولو استدلالونو ته او په لومړي پړاو کي هغه استدلالونو ته ځواب ورکړو چي تر ټولو زياته اغيزه لري او جدي ګڼل کيږي. ځيني مبلغان په خپله يو مخالف اختراع کوي، له متن څخه ځيني نقل قولونه راوباسي، څيري څيري کوي او فکر کوي چي د دښمن کار ختم شوی دی. هغوی اغلباً معکوسه پايله تر لاسه کوي.

بالاخره، لويه تيروتنه به وي که فرض وکړو چي ډير مسائل دمخه پيژندل شوي او منل شوي دي. ډيری وخت مونږ ځيني داسي شيان «منل شوي» ګڼو چي له نور مسايلو ډير لوستونکو ته فکري ستونزې رامنځته کوي. هغه شيان چي توضيح يي زمونږه لومړنی دنده ده، بايد د هر کتاب او جزوې په خپرولو کي په پام کي ونيول شي، ځکه شايد دا ډيری لوستونکو ته لومړنی کتاب يا لومړنی جزوه وي چي زمونږ عقايد هغوی ته ليږدوي. د لومړني کتاب يا جزوې د لوستلو وروسته شوني ده هغوی وغواړي زمونږ په اړه نور هم معلومات تر لاسه کړي، خو په نهيلي سره به ووايي: «دا يو ډول مرموزه ژبه ده چي زه ورباندې نه پوهيږم.» زمونږ هر تبليغاتي محصول بايد پر خپلو پښو ودريږي، بايد تاند او هر اړخيزه وي او د پوهيدني وړ وي، بايد تل په پام کي ولرو چي دا مهال زمونږ د تبليغاتو مخاطبين زيات شمير هغه غير مارکسيستان دي چي زمونږ له عقايدو څخه مبهمه پوهه لري، هغوی شونی ده چي هر تبعي عبارت د ذره بين لاندې کيږدي او په څرګنده توګه احساسوي چي هغه څه چي مونږ ورته وايو اصيل، ځواکمن او ژوندی دي که يوازې د هغه سترو او زړوروکمونيستي عقيدو چي د نړی دبدلولو په لټه کي دي، پلاستيکي ټاپه او مړځپن انعکاس دی. مونږ بايد د هغو نويو خلکو په فکر کي ووسو چي مونږ ته غوږ ږدي او بايد په نوی ژبې خبرې وکړو چي نه يوازې د پوهيدني وړ وي، بلکي پارونکي هم وي.

مونږ سترې ستونزې او همدا ډول ستر امکانات مخي ته لرو، د دې ستونزو د پلي کيدو او د دې امکاناتو د بشپړ کاروني لپاره بايد خپل تبليغات تر وروستي کچي پورې زيات او پياوړي کړو. بايد زمونږ د غږونو اوچت او روښانه فريادونه د بيوزلو سره مرسته وکړي، متزلزلو کسانو ته ټيکاو وروبخښي او مبارزين له ستر قاطعيت څخه برخمن کړي. مناسب تبليغ به د پانګوالی د دروازغو ديوال رنګ کړي، نو ملګرو:

**ډير ترويج او ډير تبليغ!**

**"سیند خپرندویه" خپاره کړي دي:**

۱.د کمونیزم اصول، فریدریش انګلس، ژباړه:فرهاد ویاړ
۲.دیالکتیک ماتریالیزم د ځوانانو لپاره، رضا قربانی، ژباړه: مرینه سحر
۳. د یوه شاعر اندیښنې، احمد شاملو، ژباړه: فرهاد ویاړ
۴.یو شعر چې کرکه ده، پاڅون دی او انتقام - سپیڅلی
۵.مور مې ښکلې نشوه، رضا فرمند، ژباړه: فرهاد ویاړ
۶.مارکسیزم او رفورمیزم، و.ا.لنین، ژباړه: هاشم سهار
۷. لیوهولان - یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!، ژباړه: فرهاد ویاړ
۸. د شناخت په اړه یو څو خبرې، صمد بهرنګي، ژباړه: څرک
۹.ارنستو چه ګوارا، م.بنامین، ژباړه:فرهاد ویاړ
۱۰.اولدوز او کارغان، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي
۱۱.کوراوغلو او کنجی حمزه، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي
۱۲. د دیالکتیك ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم په اړه، ی. و. ستالین، ژباړه: فرهاد ویاړ
۱۳- زما ګیتار! ویکتور خارا، ژباړه: فرهاد ویاړ
۱۴ - مخکښ شهید، لوچیاپن، ژباړه: فرهاد ویاړ

**خپرېږي:**

## د ویتنام حماسه، د امریکې رسوایي

میند
خپرندویه

۱۳۹۰